الدروس المهمة لعامة الأمة

پښتو

دعامو مسلمانانو لپاره

# مهم درسونه

مصنف : الشيخ عبدالعزيزبن عبدالله بن باز يرحمه الله

مترجم : حافظ فضل ربي

المكتب التعاوني للدعوة والإرشاد وتوعية الجاليات بغرب الديرة بالرياض

Tel:4391942 . Fax:4391851 . P.O Box 154488 Riyadh 11736

يمكنكم دعم مشروعات المكتب وجميع أنشطة المكتب الدعوية من خلال مصرف الراجحي حساب رقم [illegible]

WWW.DERADAWA.COM

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

**الدروس المهمة لعامة الأمة**

دعامو مسلمانانو لپاره

# مهم درسونه

مصنف : الشيخ عبدالعزيزبن عبدالله بن باز يرحمه الله

مترجم : حافظ فضل ربي

(c) ketabton.com: The Digital Library



بسم الله الرحمن الرحيم

# سريزه

الحمد لله رب العالمين ، والعاقبة للمتقين ، وصلى الله وسلم على عبده ورسوله نبينا محمد ، وعلى اله واصحابه اجمعين .

داسلامی دین په اړه چه دعامو مسلمانانو لپاره دځه پيژندل ضروري دي دهغي په باره کی داځو لنډی خبري دی چه (دعامو مسلمانانو لپاره مهم درسونه) نوم می وربانندی ایښی دے ، دالله ﷻ نه غواړم چه مسلمانانو ته پری فایده ورسوی او زما دا کوشش قبول کړی ، إنه جواد کريم .

عبد العزيز بن عبدالله بن باز

(c) ketabton.com: The Digital Library



## لمړی درس : سورت فاتحه او لنډ سورتونه

د ( الحمد لله ) يعني سورة الفاتحه او که امکان ولري دسورت الزلزلة نه دسورت الناس پوری لنډ سورتونه دچانه ایزده کول ، دتلاوت صحیح کول ، یادول او دهغی په ضروری تشریح باندی ځان پوهول .

## دوهم درس : داسلام ارکان

داسلام دپنځه ارکانو بيان چه اول او لوی رکن يی د ( لا إله إلا الله محمد رسول الله ) دکلمی ګواهی کول دی ، دهغی دشرطونو دوضاحت سره سره په معنی پوهيدل .

( لا إله ) يعني دالله نه سوا دټولو معبودانو نفی کول او صرف ( إلا الله ) دالله ﷻ دپاره ( چه يو دی او شريک نلری ) عبادت ثابتول .

(c) ketabton.com: The Digital Library



د (لا إله إلا الله) شرطونه دادي:

١. علم چه جهالت ختموي.
٢. يقين چه شک ختموي.
٣. اخلاص چه شرک ختموي.
۴. رشتيا چه دروغ ختموي.
۵. محبت او مينه چه بغض او نفرت ختموي.
٦. تابعداري او انقياد چه نافرماني ختموي.
٧. قبوليت چه انکار ختموي.
٨. د الله تعالى نه چه سوا دچا عبادت کيږي د هغوی نه انکار کول.

په لاندي دوه بيتونوکي دغه شرطونه ټول راجمع شويدي:

علم يقين وإخلاص وصدقک مع
محبة وانقياد والقبول لها
وزيد ثامنها الكفران منک بما
سوى الإله من الأشياء قد ألها

(c) ketabton.com: The Digital Library



علـم ، یقـین ،اخـلاص ، رشـتیا ، محبـت ، انقیـاد قبولیـت ، او اتـم ورسـره دالله نـه سـوا دنـورو معبودانونه انکار ورزیات کړه .

ددی سره د ( محمد رسول الله ) دګواهی کولو بیانول او ددی تقاضی او غوښتنه داده چه څه چه محمد ﷺ ویلی دی دهغی تصدیق کول د هغه دامر اطاعت کول او دڅه نه چه ئی منع کړیده دهغی نه ځان ساتل ، دالله ﷻ عبادت یوائی په هغه طریقه کول چه الله او رسول ښودلی ده .

ددی نه روسته طالب ته داسلام نور احکام بیانول چه لمونځ ، زکات ،درمضان روژه او دطاقت لرونکی مسلمان لپاره دبیت الله حج کول دی .

(c) ketabton.com: The Digital Library



دریم درس :

## دایمان ارکان

دایمان ارکان شپږ دی :

۱. په الله ایمان راوړل ۲. په ملائکو ایمان راوړل ۳. په کتابونو ایمان راوړل ۴. په رسولانو ایمان راوړل ۵. داخرت په ورځ ایمان راوړل ۶. دالله تعالی دطرفه دخیر او شر په تقدیر ایمان راوړل .

څلورم درس :

## دتوحید او شرک قسمونه

دتوحید دقسمونو بیان :

توحید په دری قسمه دے : ۱ : توحید ربوبیت ۲ : توحید الوهیت ۳ : توحید اسماء وصفات .

(c) ketabton.com: The Digital Library



**توحید ربوبیت :**

پدی ایمان راوړل چه الله ﷻ دهر څیز خالق او پیدا کونکے دے ، په هر شی کی اختیار من دے او پدیکی دهغه سره شریک نشته .

**توحید الوهیت :**

پدی ایمان راوړل چه الله ﷻ په حقه سره دعبادت لایق دے او پدیکی دهغه څوک شریک نشته او داد لااله الا الله معنی هم ده ، یعنی دالله ﷻ نه سوا بل څوک په حقه دعبادت لایق نشته .

نو ټول عبادتونه لکه لمونځ ، روژه اونور یواځی دالله ﷻ لپاره خاص کول ضروری دی او دبل چا لپاره ددغه عبادتونو نه برخه ورکول ندی جائز .

**توحید اسماء وصفات :** په قرانکریم او په صحیح احادیثو کی چه دالله ﷻ کوم نومونه او صفتونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



راغلي دي په هغو ټولو ايمان راوړل او هغه يوائې دالله ﷻ دپاره لکه څنګه چه دهغه دشان سره لايق دي ثابتول داسې چه دهغې معنى بدله نشي ، بې معنى هم نشي ، کيفيت ورله بيان نشي او دالله ﷻ دپاره مثال هم پکې رانشي لکه چه الله ﷻ فرمايي :

﴿ قُلْ هُوَ اللَّهُ أَحَدٌ * اللَّهُ الصَّمَدُ * لَمْ يَلِدْ وَلَمْ يُولَدْ * وَلَمْ يَكُنْ لَهُ كُفُوًا أَحَدٌ ﴾

الإخلاص ١-۴

ووايه چه الله ﷻ يو دے ، الله ﷻ بې نياز او بې حاجته دے ، نه دچانه پيدا او نه ده نه څوک پيدا دي او نيشته ده لره هم صفت هيڅوك .

په بل ځائ کې فرمايي :

﴿ لَيْسَ كَمِثْلِهِ شَيْءٌ وَهُوَ السَّمِيعُ الْبَصِيرُ ﴾

الشورى ١١

(c) ketabton.com: The Digital Library



دالله ﷻ په مثل هیڅ شی نشته او هغه اوریدونکی او لیدونکی دے.

بعضی علماؤ توحید په دوه قسمه بیان کړیدے، توحید اسماء وصفات هغوی په توحید ربوبیت کی داخل کړیدی لیکن دا څه دمره دتشویش خبره نده ځکه چه په دواړو تقسیمونو کی مقصد واضح او ښکاره دے.

شرک هم په دری قسمه دے:

١: شرک اکبر ٢: شرک اصغر ٣: شرک خفی.

**شرک اکبر**: دعمل دبربادۍ او څوک چه په همدغه شرک کی مړشی دجهنم اور ته دهمیشنی داخلیدلو سبب ګرځی. لکه الله ﷻ فرمایی: ﴿ وَلَوْ أَشْرَكُوا لَحَبِطَ عَنْهُم مَّا كَانُوا يَعْمَلُونَ ﴾ الأنعام ٨٨

او که دوی شرک کړی وی نو ددوی ټول عملونه به برباد شوے وے.

(c) ketabton.com: The Digital Library



او الله ﷻ فرمايي :

﴿ مَا كَانَ لِلْمُشْرِكِينَ أَن يَعْمُرُوا مَسَاجِدَ اللَّهِ شَاهِدِينَ عَلَى أَنفُسِهِم بِالْكُفْرِ أُولَئِكَ حَبِطَتْ أَعْمَالُهُمْ وَفِي النَّارِ هُمْ خَالِدُونَ ﴾

التوبة: ١٧

نشي قبليدی دمشرکانو دپاره چه ابادوی دوی جماعتونه دالله تعالی اقرار کونکی دی په ځان باندی په کفر سره ، دغه کسان برباد دی عملونه ددوی او په اور کی به دوی همیشه وی .

او څوک چه ددی شرک په حالت کی مړشو نو الله ﷻ به هیڅکله دغه انسان ته بخنه ونکړی او پده باندی جنت حرام دے .لکه الله ﷻ فرمایی :

﴿ إِنَّ اللَّهَ لا يَغْفِرُ أَن يُشْرَكَ بِهِ وَيَغْفِرُ مَا دُونَ ذَلِكَ لِمَن يَشَاءُ ﴾ النساء: ٤٨

یقینا الله تعالی نه بخی چه شرک وکړیشی دهغه سره

(c) ketabton.com: The Digital Library



او بخي هغه ګناهونه چه کم وي د دينه هغه چا لره چه وغواړي.

او الله ﷻ فرمايي:

﴿ إِنَّهُ مَن يُشْرِكْ بِاللَّهِ فَقَدْ حَرَّمَ اللَّهُ عَلَيْهِ الْجَنَّةَ وَمَأْوَاهُ النَّارُ وَمَا لِلظَّالِمِينَ مِنْ أَنْصَارٍ ﴾ المائدة: ۷۲

بيشکه چاچه شرک وکړو د الله ﷻ سره پس يقينا بند کړيدی الله ﷻ پده باندی جنت او ځای دده اور دے او نشته ظالمانو لره هيڅ مددګار.

د شرک اکبر داقسامو نه دمړو او بتانو نه غوښتل او دهغو نه سوال کول، هغو ته فرياد کول، دهغوی لپاره منښته او نذر منل دهغوی لپاره څاروی حلالول او داسی نور.

**شرك اصغر** : دا هغه دے چه ديته شرک ويل دقران او سنت دنصوصو نه ثابت وی ليکن په شرک اکبر

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې داخل نوي لکه په ځینو کارونو کې ریاء او ځان ښودنه کول ، دالله ﷻ نه سوا په بل چا قسم کول ، داسې وینا لکه (ماشاء الله وشاء فلان) یعنی که دالله اوفلانی خوښه وي او داسې نور لکه رسول کریم ﷺ فرمایي : ((أخوف ما أخاف علیکم الشرک الاصغر ، فسئل منه فقال : (الریاء))

زما ډیره زیاته ویره په تاسو باندې دشرک اصغر یعنی وړوکي شرک نه ده چا ترې پدې باره کې تپوس وکړو نو ویې فرمایل چه شرک اصغر ریاء او ځان ښودنې ته وایي .

داحدیث امام احمد ، طبراني او بیهقي دمحمود بن لبید انصاری رضي الله عنه نه په جید سند سره روایت کړیدے اوامام طبراني په جیدو سندونو سره دمحمود بن لبید نه درافع بن خدیج رضي الله عنه په روایت درسول کریم ﷺ نقل کړیدے .

(c) ketabton.com: The Digital Library



دارنګه رسول کريم ﷺ فرمايي : (( من حلف بشيئ دون الله فقد أشرک )) چاچه دالله ﷻ نه سواپه بل څه قسم وکړو نو يقينا دغه سړی شرک وکړو .

امام احمد رحمة الله عليه دا حديث دعمر بن خطاب رضي الله عنه نه په صحيح سند سره روايت کړيدے او امام ابوداود او ترمذي په صحيح سندونو سره دابن عمر رضي الله عنهما حديث رانقل کړيدے چه رسول کريم ﷺ فرمايي : (( من حلف بغير الله فقد کفر او أشرک )) چاچه دالله نه غير په بل چا قسم وکړو نو يقينا دغه سړی کفر وکړو او يا يی شرک وکړو .

په بل حديث کی رسول ﷺ فرمايي : (( لاتقولوا : ماشاء الله وشاء فلان ولکن قولوا : ماشاء الله ثم شاء فلان )) تاسی دامه وايی چه څه چه دالله او

(c) ketabton.com: The Digital Library



دفلاني خوبنه وي ليکن داسي وايي چه څه چه دالله خوبنه وي او بيا دفلاني خوبنه وي .

دا حديث امام ابوداود په صحيح سند سره دحذيفه ابن اليمان رضي الله عنه نه روايت کړيد ے .

دشرک پدی قسم انسان ددين نه نه مرتد کيږی او هميشني دوزخی هم نه ګرځی ليکن دتوحيد دپوره والی خلاف دی .

**شرک خفي :** دادشرک دريم قسم دے او ددی دليل

درسول کريم ﷺ دامبارکه وينه ده چه فرمايی :

(( ألا أخبركم بما هو أخوف عليكم عندي من المسيح الدجال ؟ )) قالوا بلى يارسول الله ، قال : (( الشرک الخفي ، يقوم الرجل فيصلي فيزين صلاته لما يرى من نظر الرجل اليه ))

ايا زه تاسوته زما په نزد دمسيح الدجال نه دزيات خطرناک شيز خبر درنکړم ؟ اصحابو عرض وکړو هو !

(c) ketabton.com: The Digital Library



ای د الله رسوله . نو ویې فرمایل : (شرک خفي ) یعنې پټ شرک چه یو سړی د مانځه د پاره ودریږي نو خپل مونځ په خایسته طریقه ددې وجې کوي چه خلک ورته ګوري .

دا حدیث امام احمد په خپل مسند کې د ابو سعید الخدري رضي الله عنه نه روایت کړید ے .

شرک یو اځې دوه قسمونو ته هم تقسیمد ے شي ، چه شرک أکبر او شرک أصغر د ے ، او شرک خفي پدې دواړو کې شامليږي .

لکه د منافقینو شرک په شرک أکبر کې داخليږي ځکه هغوی خپلې باطلې عقیدې پټوي او د خپلې ویرې او ځان ښودنې د وجې اسلام ښکاره کوي ، دا رقم ریاء او ځان ښودنه په شرک أصغر کې شماريږي لکه د محمود بن لبید انصاري او ابو سعید خدري (رضي الله عنهما) په احادیثو کې مخکې ذکر شو .

والله ولي التوفيق

(c) ketabton.com: The Digital Library



پنځم درس :

## احسان

د احسان رکن دا دے چه ته د الله ﷻ عبادت داسی په توجه وکړی لکه چه ته الله وینی او که ته یی نه وینی نو هغه خو تا وینی .

شپږم درس :

## دلمانځه شرطونه

دلمانځه شرطونه نهه دی

۱ : اسلام ۲ : عقل ۳ : تمیز ۴ : بي اودسی لری کول ۵ : پلیتی لری کول ۶ : عورت پټول ۷ : دوخت داخلیدل ۸ : قبلي ته مخ کول ۹ : نیت کول .

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوم درس :

## دلمانځه أرکان

دلمانځه ارکان ۱۴ دی .

۱ : قیام یعنی ودریدل که دانسان په طاقت کی وی ۲ : تکبیر تحریمه (اولنی تکبیر) ۳ :سورت فاتحه لوستل ۴ : رکوع کول ۵ : درکوع نه روسته په قومه کی برابر ودریدل ۶ : په اوه اندامونو سجده کول ۷ : دسجدی نه سرپورته کول ۸: ددواړو سجدو په منځ کی کیناستل ۹ : په ټولو کارونو کی په اطمینان او ارام اوسیدل ۱۰ : په ارکانو کی ترتیب رعایت کول ۱۱ : اخری تشهد ۱۲ : دتشهد لپاره کیناستل ۱۳ : په پیغمبر ﷺ درود ویل ۱۴ : دواړو طرفونو ته سلام ګرځول .

(c) ketabton.com: The Digital Library



اتم درس :

## دلمانځه واجبات

دلمانځه واجبات اته دی
۱ : دتکبیر تحریمه نه علاوه نورتهول تکبیرونه ۲ : دامام او منفرد (یواځی مونځ کونکی) دپاره (سمع الله لمن حمده) ویل ۳ : دټولو دپاره (ربنا ولک الحمد) ویل ۴ : په رکوع کی (سبحان ربي العظیم) ویل ۵ : په سجدو کی (سبحان ربي الاعلی) ویل ۶ : ددواړو سجدو په منځ کی (رب اغفرلي) ویل ۷ : اولنی تشهد ۸ : داولنی تشهد لپاره کیناستل.

نهم درس :

## دتشهد بیان

تشهد دادے : (التحیات لله ، والصلوات ، والطیبات ، السلام علیک ایها النبي ورحمة الله

(c) ketabton.com: The Digital Library



وبركاته، السلام علينا وعلى عباد الله الصالحين، أشهد ألا اله إلا الله ، وأشهد أن محمدا عبده ورسوله )

ټولې پیشکشۍ او عبادتونه بدني او مالي الله لره دي، سلام دې وي په تابانديٰ اې پيغمبره او دالله رحمتونه او برکتونه دې درباندې وي . سلام دې وي په مونږ باندې او دالله په صالحو بندګانو ، ګواهي کوم چه دالله نه سوا بل څوک معبود نشته او ګواهي کوم چه محمد ﷺ دالله ﷻ بنده او رسول دے .

ددې نه روسته به په نبی کریم ﷺ باندې درود وايي او دهغه لپاره به دبرکت سوال کوي او وايي به چه :

( اللهم صل على محمد ، وعلى أل محمد ، كما صليت على إبراهيم وعلى أل إبراهيم إنك حميد مجيد ، وبارك على محمد ، وعلى أل محمد ،

(c) ketabton.com: The Digital Library



کما بارکت علی إبراهیم وعلی آل إبراهیم ، إنک حمید مجید )

ای الله ته رحمت نازل کړی په محمد ﷺ او دهغه په اولاد لکه څرنګه چه تا رحمت نازل کړی وو په ابراهیم علیه السلام او دهغه په اولاد ، او برکت و کړی په محمد ﷺ او دهغه په اولاد لکه څرنګه چه تا برکت کړی وو په ابراهیم علیه السلام او دهغه په اولاد باندی ، یقینا ته ستایل شوی ذات او دبزرګۍ والا یې .

بیا به په اخری تشهد کی دجهنم دعذاب ، دقبر دعذاب ، دژوندانه او مرګ دفتنو او دمسیح الدجال دفتنی نه په الله جل جلاله باندی پناه او امان وغواړی او بیا دخپلی خوښی ددعاء په غوښتو کی دلمونځ کونکی اختیار او خوښه ده ، خصوصا هغه دعاګانی چه مأثوری او غوره شوی دعاګانی دی لکه :

(c) ketabton.com: The Digital Library



( اللهم أعني على ذكرك وشكرك وحسن عبادتك، اللهم إني ظلمت نفسي ظلما كثيرا ، ولايغفرالذنوب إلا أنت ، فاغفر لي مغفرة من عندك وارحمني إنك أنت الغفور الرحيم )

اى الله دخپل ذكر ، شكر او غوره عبادت لپاره زما سره مرسته وكړى ، اى الله ما په خپل ځان ډير ظلم كړيدے او ګناهونه يوائى هم ته بخى ،نو ماته دخپل طرف نه بخنه وكړى او په مارحم وكړه يقينا هم ته بخونكى او مهربانه ذات يى .

په اولنى تشهد كى به دشهادت دكلمى دلوستلو نه روسته دماسپښين ، مازيګر ، ماښام او ماسخوتن په مونځونو كى دريم ركعت ته پاڅيږى او كه په نبى كريم ﷺ باندى يى درود ووايه نو هم غوره ده ځكه چه پديكى عام احاديث راغلى دى ، بيا به دريم ركعت ته پاڅيږى .

(c) ketabton.com: The Digital Library



لسم درس :

## دلمانځه سنتونه

دلمانځه دسنتونو نه څه په لاندی ډول دی :

۱ : دلمانځه په شروع کی ثنا ویل .

۲ : دقیام په حالت کی درکوع نه وړاندی او روسته دښی لاس ورغوی په ګڅ لاس باندی دسینی دپاسه ایښودل .

۳ : داولنی تکبیر درکوع اودرکوع نه دراپورته کیدو دتکبیر او داولنی تشهد نه دریم رکعت ته دراپاڅیدو په وخت کی داوږو یا غوږونو په برابری دلاسونو پورته کول .

۴ : په رکوع او سجده کی دیوځل تسبیح ویلو نه زیات تسبیحات ویل .

۵ :درکوع نه دپاڅیدو روسته یعنی په قومه کی په

(c) ketabton.com: The Digital Library



ربناولک الحمد باندی زیات الفاظ او ددوه سجدو په منځ کی دمغفرت دعا دیوځل نه زیاته لوستل.

۶: په رکوع کی سر دملا سره برابرول.

۷: په سجده کی ځنګلی دارخونو، خیتمه دورنونو، او ورنونه دپنډونه لری ساتل.

۸: په سجده کی دواړه لیچی (متهی) دځمکی نه پورته کول.

۹: په اولنی تشهد او ددواړو سجدو په منځ کی دښی پښی ودرول او په کینه پښه کیناستل.

۱۰: دڅلور رکعتیز او دری رکعتیز لمونځ په اخیرنی تشهد کی - تَوَرُّکْ - یعنی ښی پښه ودرول، کینه پښه دهغی نه لاندی کول او په ځمکه کیناستل.

۱۱: په اولنی اودوهم تشهد کی دهغه وخته چه لمونځ کونکی کینی دتشهد تراخیره پوری داشاری په ګوته باندی اشاره کول او ددعا په وخت کی هغی ته حرکت ورکول.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۲ : په اولنی تشهد کی درود شریف لوستل .

۱۳ : په اخیرنی تشهد کی دعاء کول .

۱۴ : دسهار ، جمعی ، اخترونو او استسقاء په لمونځونو اودماښام او ماخوستن دلمانځه په اولنو دوه رکعتونو کی قرائت په جهر یعنی په زوره لوستل .

۱۵ : دماسپخین ، مازیګر په لمونځونو او دماښام په دریم رکعت او دماخوستن په روستنو دوه رکعتونو کی خفیه یعنی په کراره قرائت لوستل .

۱۶ : دسورت فاتحه نه علاوه نور قرائت لوستل .

ددی یادو شوؤ سنتونو نه علاوه نو سنتونه هم شته څه خیال ساتل یې ضروری دی لکه دامام ، مقتدی او ځانله مونځ کونکی لپاره درکوع نه دپاڅیدو روسته په ربنا لک الحمد باندی زیات الفاظ ویل .

دارنګه په رکوع کی دواړه لاسونه په زنګونونو باندی اینښودل چه ګوتی یې خوری وری وی .

(c) ketabton.com: The Digital Library



يولسم درس :

## دلمانځه ماتؤنکی ( مبطلات )

دلمانځه ماتئونکی اته دی :

۱ : سره دپوهی قصدا خبری کول ، البته په ناپوهی یاهیر باندی په خبرو سره لمونځ نه ماتیږی .

۲ : خندا کول ۳ : خوراک کول ۴ : څښاک کول

۵ : عورت ښکاره کول ۶ :دقبلی نه ډیر کږیدل.

۷ : په لمانځه کی پرلپسی ډیر عبث او بی فائدی کارونه کول ۸ : داودس ماتیدل .

دولسم درس :

## داو داسه شرطونه

داوداسه شرطونه لس دی :

اسلام ، عقل ، تمیز ،نیت ، تراخیره داوداسه دنه پریښودلو نیت ساتل ، داوداسه سبب ختمول ،

(c) ketabton.com: The Digital Library



اودس وچـول او اسـتنجاء كـول ، داوبـو پـاكوالي او مباحوالي ، هغه څه لـري كـول چـه پوسـتكي تـه داوبو رسيدل منع كوي او دهغه چا لپاره چه بي اودسي يي هميشني وي دلمانځه وخت داخليدل .

دیارلسم درس :

## داوداسه فرض

داوداسه فرض شپږ دي :

دمـخ وينځل، چـه پـديكي مضـمـضه ( خـولي تـه اوبـه اچول ) اواستنشاق ( پوزی تـه اوبـه اچـول) شـامل دي .

دخنګلو سره دلاسونو وينځل .

دټول سر مسح كول چه غوږونه هم پكي داخل دي .

دپښو ( ګيټو ) سره پښي وينځل .

ترتيـب ( يـو پـه بـل پسي معـين اندامونـه وينځـل ) .

پرلپسي اودس كول .

(c) ketabton.com: The Digital Library



دمخ ، لاسونو او پښو دری ځله وینځل او مضمضه او استنشاق دری ځله کول مستحب دی البته یو ځل کول فرض دی .

د سر دمسحی تکرار لکه څنګه چه احادیث پری دلالت کوی مستحب ندی .

څوارلسم درس :

## داوداسه ماتونکی

داوداسه ماتونکی شپږ دی :

ددوه لارونه ( مخکی او روسته ) دځه وتل ، دوجود نه ډیره پلیتی خارجیدل ، په خوب او بل څه باندی دعقل ختمیدل ، په مخکی یا روسته شرمګاه دځه حائل او مانع نه بغیر لاس لګول ، داوښ غوښه خوړل ، داسلام نه مرتد کیدل – الله ﷻ دی مونږ او ټول مسلمانان ددی نه وساتی .

(c) ketabton.com: The Digital Library



## مهمه یادونه :

مړی ته په غسل ورکولو کی صحیح او غوره رایه داده چه اودس پری نه ماتیږی او دادزیتو عالمانو نظراوقول دی ، ځکه چه پدی دلیل نشته البته که دغسل ورکونکی لاس دمړی په شرمګاه باندی دخه مانع نه بغیر ولږیږی نو اودس پری واجبیږی .

خودغاسل لپاره ضروری دی چه دمړی په شرمګاه باندی دمانع پرته لاس ونه لږوی .

دا رقم دصحیح قول مطابق که دسړی د بدن نه څه ونه وځی نو دښځوسره په یواځی لاس لږولو هم اودس نه ماتیږی که په شهوت سره وی او که نه وی ، ځکه چه رسول الله ﷺ خپله بي بي ښکل کړه او بیا یی داودس کولو نه بغیر لمونځ ادا کړو .

او داچه الله ﷻ فرمایی : ﴿ أَوْ لاَمَسْتُمُ النِّسَاءَ ﴾ { النساء: ۴۳ ، المائده ۶ }

(c) ketabton.com: The Digital Library



يعنې تاسو په ښځو باندې لاس ولګوول . نو دعلماؤ دغوره قول مطابق ددينه جماع (كوروالى) مراددى ، او داد عبدالله بن عباس او زياتو پخوانو او روستنو علماؤ قول دے .

پنځلسم درس :

## دهر مسلمان لپاره شرعي اخلاق خپلول

مسلمان دپاره لازم دى چه په شرعي اخلاقو باندې ځان خائسته كړى چه دهغې نه څه دادى :

رېښتيا ويل ، امانتدارى ، پاكلمنى ، حياء ، بهادرى ، سخاوت ، وفاء كول ، دهر حرام نه ځان پاک ساتل ،نبه ګاونډيتوب ، دوس او طاقت سره سم د محتاجو خلكو سره مرسته او كومک كول او داسې نور اخلاق چه قران او سنت دهغې په مشروعيت دلالت كوى .

(c) ketabton.com: The Digital Library



## شپاړسم درس :

# اسلامي اداب خپلول

مسلمان باید اسلامي اداب خپل کړي چه دهغي نه ځیني دادي :

سلام کول ، همیشه روڼ او کولاؤ تندی ساتل ، په ښي لاس خوړل او څکل ، په شروع کی بسم الله ویل ، په اخر کی الحمد لله ویل ، دپرنجي نه روسته الحمد لله ویل ، که پرنجي کونکی الحمد لله ووایي نو دهغي جواب ورکول ، دمریض او ناروغ پوښتنه کول ، په جنازي پسي دمانځه او دفن کولو دپاره تلل ، مسجد او کور ته دننوتلو او وتلو ، دسفر په وخت کی ، دمور او پلار ، خپلوانو ، ګاونډیانو ، وړو او لویو سره دشرعي ادابو رعایت کول ، دبچي دپیداکیدو او واده مبارکي ورکول ، په مصیبت کی تسلي ورکول په لباس اغوستلو ، ویستلو ، پیزار په خپو کولو او

(c) ketabton.com: The Digital Library



ویستلو کی او د اسی نور د اسلامی ادابو خیال ساتل پکار دی.

## اولسم درس:

### دشرک او نورو گناهونو نه ځان ساتل

دشرک او نورو گناهونو نه زیاته ویره او دهغو نه دځان ساتنه کول او ددغه گناهونو نه څه دادی:

اوه (۷) تباه کونکی کارونه:

دالله ﷻ سره شرک کول، سحر (جادو)، دهغه چا وژل چه الله ﷻ یی قتل حرام کړی وی مګر په حق باندی، سود کول، دیتیم مال خوړل، دجنګ نه تیښته کول، په پاکلمنو مسلمانو ناخبره ښځو باندی تهمت او بدنامه لږول او هغوی ته کنځل کول.

ددی گناهونو دجملی نه داهم دی:

(c) ketabton.com: The Digital Library



دمور او پلار نافرماني کول ، خپلوی ختمول ، دروغ ګواهي کول ، دروغ قسمونه کول ، ګاونډي ته ضرر رسول ، دويني ، مالونو او عزتونو په باره کي په خلکو ظلم کول ، نشي کول ، قمار او جواري کول ، غيبت ، چوغلي ، او داسي نور کارونه چه الله اورسول تري منع کړي وي .

اتلسم درس :

## دجنازې تيارول ، لونځ پرې کول او دمړي ښخول

ددې تفصيل په لاندې ډول دی :

**لمړی** : دلاإله إلا الله تلقين او يادونه کول ، رسول الله ﷺ فرمايي : ((لقنوا موتاکم لا إله إلا الله)) (رواه مسلم) خپلو مړو ته دلا إله إلا الله دکلمې تلقين او يادونه وکړئ .

(c) ketabton.com: The Digital Library



پدی حدیث کی دمړو نه مراد هغه خلک دی چه دمرګ علامی ورباندی ښکاره شی .

**دوهـــم** : کله چه دانسان مرګ یقینی شی نو لکه څرنګه چه په احادیثو کی راغلی دی باید سترګی دی ورله وړپټی کړی او زنه یی وتړل شی .

**دریم** : دمسلمان مړی لمبول او وینځل واجب دی خو البته که دجنګ په میدان کی شهید شی نو غسل به هم نه ورکول کیږی او جنازه به هم پری نه کیږی او په خپلو جامو کی به ښخیږی ، لکه څرنګه چه رسول الله ﷺ دأحد شهیدانو ته غسل هم نه ؤو ورکړی او جنازه یی هم پری نه وه کړی .

**څلورم** : مړی ته غسل ورکول پدی ډول دی :

عورت به یی پټ کړیشی او لږ به پورته کړل شی په خیته به نرم او ارام لاس راښکل شی بیا به غاسل (لمبونکی) دخپل لاس نه ټوټه یابل څه چاپیر کړی او

(c) ketabton.com: The Digital Library



مړی له به استنجاء وکړی او دلمانځه په شان اودس به ورله ورکړی ، سر او ږیره به یې په اوبو یا بیره یا بل شي ومینځي بیا به یې ښی اړخ او بیا چپ اړخ ومینځي ، اوبیا به همداسی دوهم ځل او دریم ځل غسل ورکړی او په هر ځل کی به دمړی په خیټه لاس تیروی که څه تری ووځی نو ودی مینځي او هغه ځائ دی په مالوچو یابل څه بند کړی ، که په مالوچو بند نشو نو نرمه خټه او یا په جدیدو طبی وسائلو لکه پلاستر وغیره دی بند کړی اودوهم ځل دی ورله اودس ورکړی .

که په دری ځله غسل پاک نشو نو پنځه او اوه ځله هم غسل ورکولی شي ، بیا دی په ټوټه وچ کړی په بندونو (جوړونو) اودسجدی په ځایونو دی ورلره خوشبو ولږوی ، که ټول بدن یی ورله خوشبویه کړو نو هم ښه ده او کفن ته دی خوشبویه لوګی وکړی .

(c) ketabton.com: The Digital Library



که بریتونه او نوکان یې اوږده وو لږ دې تری واخلی او که همداسې یې پرېښود ل نو هم څه باک نشته، ویښتان به یې نه ګمنځوی ، دنامه لاندې ویښتان دې تری نه خروی او نه دې سنت کوی ځکه چه پدې کوم دلیل نشته .

دښځې ویښتان به درې کوڅۍ کړی او شاته به یې واړوی .

**پنځم** : مړی ته کفن ورکول :

غوره داده چه سړی ته په درې سپینو ټوټو کې کفن ورکړل شی ، کمیس او پټکی پکې نشته او همداسې نبې کریم ﷺ ته کفن ورکړل شوی وو .

مړی به په دغه کفن کې راونغښتل شی او که په میس لنګ او لفافه یعنی غټ څادرکې کفن ورکړل شی نو هم څه باک نشته .

(c) ketabton.com: The Digital Library



دښځې کفن پنځه ټوټې دی ، کمیس ، زړوکی ، لنګ او دوه لفافې یعنې غټ څادرونه .

دماشوم کفن به دیوې ټوټې نه تر درې پورې وی ، او جینۍ ته به په یو کمیس او دوه لفافو کې کفن ورکولی شي .

هسې خو ددې ټولو لپاره په یوه ټوټه کې کفن ورکول واجب دی چه دمړی ټول بدن پرې پټ شي خو که مړی په احرام کې وو نو په اوبو او بیرې باندې به غسل ورکړل شي او خپل څادر او لنګ یا بل څه به یې کفن شي ، سر او مخ به یې نه پټیږی او خوشبو به هم پرې نه لږول کیږی ، ځکه چه دقیامت په ورځ به دا تلبیه ویونکې راپاڅیږی . لکه په همدې مسئله کې درسول کریم ﷺ نه صحیح حدیث نقل شوید ے .

که داحرام په حالت کې ښځه مړه شوه نو دنورو ښځو په شان به کفن ورکړل شي خو خشبو به پرې نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



لړول کیږي مخ به یې په پرده او لاسونه به یې په دستکشو نه پټیږي بلکه په کفن کې به یې پټوي چه تفصیل یې مخکې بیان شویدی.

**شپږم**: دکفن ورکولو ، دجنازې دلمانځه او ښخولو زیات حقدار: دنارینه دپاره هغه څوک دی چه دهغه دپاره مړي وصیت کړے وي، بیا پلار بیا نیکه او بیا نور خپلوان چه درجه په درجه مړي ته نژدې وي.

دښځې دپاره غوره داده چه دچا لپاره چه هغې وصیت کړې وي بیا مور، بیا نیا او بیا درجه په درجه نژدې خپلوانې زنانه هغې ته غسل ورکړي.

ښځه او خاوند یوبل ته غسل ورکولی شي لکه ابوبکر صدیق رضي الله عنه ته خپلې بي بي غسل ورکړی وو او حضرت علي رضي الله عنه خپلې بي بي حضرت فاطمې رضي الله عنها ته غسل ورکړی وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**اؤم : دجنازې دلمانځه طریقه :**

دجنازې پـه لمانځـه کـې څلـور تکبیرونـه دي داولنـی تکبیر روسته به سورت فاتحه لولي او که دهغـی سره یې یو لنډ سورت او یا یو یـادوه ایاتونـه ولوستل نـو هم ښه ده او پدې باندې دابـن عبـاس رضـي الله عنهمـا نه صحیح حدیث نقل شویدے .

بیا به دوهم تکبیر وکـړې او لکـه دتـشهد پـشان بـه پـه نبـي ﷺ درود ووایـی بیـا بـه دریـم تکبیـر وکـړی اوادعاء به ولولی :

اللهـم اغفـر لحینـا ومیتنـا وشـاهدنا وغائبنـا وصغیرنا وکبیرنا وذکرنا وانثانا اللهم من احییتـه منـا فاحیـه علـی الاسلام ومـن توفیتـه منـا فتوفـه علی الایمان اللهم اغفر لـه وارحمـه وعافـه واعـف عنـه واکـرم نزلـه ووسـع مدخلـه واغـسله بالمـاء والثلج والبرد ونقه مـن الخطایـا کمـا ینقـی الثـوب

(c) ketabton.com: The Digital Library



الابيض من الدنس وابدله دارا خيرا من داره واهلا خيرا من اهله وادخله الجنة واعذه من عذاب القبر وعذاب النار وافسح له في قبره ونور له فيه اللهم لا تحرمنا اجره و لا تضلنا بعده .

ترجمه : ای الله زمونږ ژوندی او مړه ، زمونږ حاضر او غایب ،زمونږ واړه او لوی او زمونږ نر او ښځې وبخی . ای الله هغه څوک چه ته زمونږ نه ژوندی ساتی نو په اسلام یې ژوندی وساته او څوک چه زمونږ نه وفات کوی نو په ایمان یې وفات کړه .

ای الله دا مړ شوی بنده وبخښی ، رحم پرې وکړی ، ده ته ارام ورکړه او عفوه ورته وکړه ، دده دورتلو ځائ دعزت او دورننوتلو ځائ یې پراخه کړه ، په اوبو ، واوری او ږلۍ یې پریمینځه او دګناهونو او خطاګانو نه یې داسې پاک کړه لکه سپینه جامه چه دخیرې نه پاکیږی ، ده ته دخپل کور نه ښه کور او دخپل اهل نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورته ښه اهل ورکړه ، جنت ته يې ننباسه او داور او قبر دعذاب نه يې په خپله پناه کې وساته او قبر يې ورته پراخه او روښانه کړه .

اى الله دده دثواب نه مونږ مه بې برخې کوه او دده نه روسته مونږ مه بې لارې کوه .

بيا به څلورم تکبير وکړي او ښى طرف ته به يو سلام وګرځوي .

مستحب دادى چه دهر تکبير سره لاسونه پورته کړي ، که مړى ښځه وى نو ( اللهم اغفرلها ) به وايي او که جنازى دوه وى نو ( اللهم اغفرلهما ) به وايي او که جنازى ډيرى وى نو ( اللهم اغفرلهم ) به وايي .

که مړى نابالغه وو نو دمغفرت ددعاء پر ځاى به دادعاء وايي :

( اللهم اجعله فرطا وذخرا لوالديه وشفيعا مجابا ، اللهم ثقل به موازينهما واعظم به أجورهما وألحقه

(c) ketabton.com: The Digital Library



بصالح سلف المؤمنين ، واجعله في كفالة إبراهيم عليه الصلاة والسلام ، وقه برحمتک عذاب الجحيم )

اى الله ﷻ دامخکی ليږلی شوی شی ، اودخپل مور او پلار لپاره يی ذخيره اوداسی سفارشی وګرځوه چه سفارش يی قبول شوے وی .

اى الله دهغوی دعملونو تله پده باندی درنه کړی اودهغوی اجرونه ورباندی لوی کړی ، دمؤمنانو دپخانو صالحانو سره يی يو ځائ او دإبراهيم عليه السلام په ساتنه کی يی ورکړی او په خپل رحمت سره يی دجهنم دعذاب نه وساته .

سنت دادی چه امام به دسړی دسر او دښځی دمنځ په برابری ودريږی او که جنازی ډيری وی نو دسړی جنازه به امام ته نزدی او دښځی جنازه به قبلی طرف ته نزدی کيښودل کيږی او که ماشومان پکی وو نو

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیا به هلک دښځې نه مخکې بیا ښځه او بیا جینۍ اینبودل کیږي ، دهلک سر به دسړي دسر ، دښځې منځ به دسړي دسر او دجینۍ سر به دښځې دسر او ملا به یې دسړي دسر سره برابریږي . نور مونځ کونکي به دامام نه روسته ودریږي ، البته که یو کس پاتې شو چه روسته هغه تـه ځای نـه وو پاتې نو دامام ښي اړخ ته ودریدی شي .

**اتم :** دښخولو طریقه :

شرعي طریقه داده چه قبر به دسړي دقد په نیمایي باندې ژوروللی شي ، دقبلې طرف ته به پکې لحد وي، مړے به په لحد کې په ښي اړخ اینبودل کیږي دکفن غوټې به یې پرانیزي او همداسې به یې پریږدي ، مخ به یې نه ښکاره کوي البته نر او ښځه پدیکې برابر دي

(c) ketabton.com: The Digital Library



خبنتي به ورته ودرول شي او دکلکوالی دپاره به پری ختيه ولړول شي ، که خبنتي نه پيدا کيدی نو بل څه لکه تختی یا ګټی یا لرګی دی استعمال شي تر څو دخاورو نه مړی وساتل شي ، او بیا به پری خاوری واړول شي .

پدی وخت کی مستحب دادی چه ((بسم الله وعلی ملة رسول الله)) وویل شي قبر به دلويشت په اندازه پورته کولی شي ، ګیتي او کاڼی که پيدا کيدل هغه به پری کيښودل شي او وابه به پری وشيندل شي .

دجنازی سره دتلونکو دپاره پکار دی چه دقبر سره ودريږی او دمړی دپاره دعاء وغواړی ، ځکه چه نبی کریم ﷺ به چه کله دمړی دښخولو نه وزګار شو نو وبه دريدو او وبه يی ویل : ((إستغفروا لأخيكم واسألوا له التثبت فإنه الأن يسأل))

(c) ketabton.com: The Digital Library



دخپل وروړ لپاره بخنه او دالله نه ورته ثابت قدمي وغواړي ځکه چه اوس دده نه تپوس کيږي .

نهم : هغه چا چه په مړي يې جنازه نه وي کړي نو هغه کولی شي چه دښخيدلو روسته پرې جنازه وکړي لکه چه نبي ﷺ همداسې کړيدي ، البته دادښخيدلو نه تر يوې مياشتې پورې جايز دي ، که ددې نه زياته موده وشوه نو بيا په قبر باندې لمونځ کول ندي جايز ځکه دنبي ﷺ نه داندي ثابت چه هغه دې په قبر باندې دمړي دښخيدو نه ديوې مياشتې دتيريدو روسته جنازه کړې وي .

لسم : دمړي دکور لپاره داندي جايز چه هغوی دخلکو دپاره خوراک برابر کړي ، امام أحمد رحمة الله عليه په حسن سند سره دمشهور صحابي حضرت جرير بن عبد الله البجلي رضي الله عنه نه روايت کوي چه فرمايي :

(c) ketabton.com: The Digital Library



(( كنا نعد الاجتماع إلى أهل الميت وصنعة الطعام بعد الدفن من النياحة )) مو نږ به دمړي كور ته دخلكو راټوليدل او دمړي دښخولو نه روسته هلته دخوراک برابرول ( نوحة ) يعني وير ګڼلو . البته دمړي دكور لپاره او دهغوی دميلمنو دپاره هكه بل څوک خوراک تياروي نو كوم باک نشته .

دمړي دخپلوانو او ګاونډيانو لپاره پكار دي چه هغوی له خوراک تيار كړي ، ځكه كله چه نبي ﷺ ته دشام نه دجعفر بن ابي طالب رضي الله عنه دمرګ خبر راورسيد نو خپل اهل ته يې دجعفر دكورنۍ لپاره دخوراک دتيارولو حكم وكړو او ويې فرمايل : (( إنه أتاهم مايشغلهم )) يقينا دوی ته داسې مصيبت راغلی دی چه دوی يې بې پروا كړيدي .

دمړي كور ته كه څه خوراک خلكو راليږلی وی نو دهغوی لپاره جايز دي چه خپل ګاونډيان هغې ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



دعـوت کـړی او زمـونږ دعلـم مطـابق ددی لپـاره کـوم تاکلی وخت نشته .

**یولسم** : دښځی لپاره په مړی باندی ددری ورځونه زیات غم کول ندی روا مګر په خپل خاوند باندی به دڅلورو میاشتو او لسو ورځو پوری غم کوی خو که ددغه ښځی په خیټه اولاد وی نو دبچی دپیدا کیدو پوری به غم کوی او پدی باندی دنبيﷺ نه صحیح احادیث راغلی دی .

اودسړی دپاره په هیڅ خپل یا پردی باندی غم کول ندی روا .

**دولسم** : دسړو لپاره په هر وخت کی دقبرونو زیارت روا دے البته هغوی ته ددعاء لپاره ، په هغوی دمهربانۍ په خاطر او دمرګ او اخرت دیادولو لپاره امام مسلم رحمة الله علیه په خپل صحیح کی یوروایت راوړیدی چه نبی کریمﷺ فرمایی :

(c) ketabton.com: The Digital Library



(( زوروالقبور ، فإنها تذكركم الاخرة )) دقبرونو زيارت كوئ ځكه چه داتاسو ته اخرت يادوي .

پيغمبر ﷺ به خپلو ملګرو ته دقبرونو دزيارت په وخت كى ددى وينا ښودنه كوله چه : (( السلام عليكم أهل الديار من المؤمنين والمسلمين، وإنا إن شاء الله بكم لاحقون ، نسأل الله لنا ولكم العافية، يرحم الله المستقدمين منا والمستأخرين ))

اى ددى كورونو اوسيدونكو مومنانو او مسلمانانو په تاسو باندى دى سلام وى او مونږ كه دالله ﷻ خوښه وشوه نو ستاسو سره ملا قات كونكى يو . دالله ﷻ نه ځانته او تاسو له عافيت غواړو ، الله ﷻ دى زمونږ په مخكنو او روستنو باندى رحم وكړى .

(c) ketabton.com: The Digital Library



دښځو لپاره دقبرونو زيارت روا ندى ځکه رسول الله ﷺ دقبرونو په زيارت کونکو ښځو لعنت ويلى دے .
او بل دا چه دهغوى دزيارت ته تللو نه دفتنى او بى صبرى ويره ده ، دارنګه دهغوى لپاره په جنازه پسى هديرى ته تلل هم جايز ندى ځکه چه رسول الله ﷺ ددى نه ښځى منع کړيدى ، خو په مړى باندى په جومات ياد جنازى په ځائ کى دښځو او سړو ټولو لپاره دجنازى لمونځ روا دے .

وصلى الله وسلم على نبينا محمد ،وأله وصحبه

(c) ketabton.com: The Digital Library

بښتو

# الدروس المهمة لعامة الأمة



تأليف سماحة الشيخ العلامة
عبدالعزيز بن عبدالله بن باز
- رحمه الله تعالى -

مراجعة
حافظ فضل ربي

The Coperative Office for Call & Guidance to Communities at Western Diraah
Tel:4391942 Fax:4391851 . P.O Box 154488 Riyadh 11736
WWW.DERADAWA.COM

مطبعة دار طيبة - الرياض

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**